استاد سنګروال

۲۰۱۹/۰۷/۳۱

# غزل

شپېه شپېه مې ګوتې ګرېوانه ته ځي راځي
د زړه يوه خبره مې خپل زړه ته ځي را ځي

چې ولې د نړۍ هر زورور په نښه کړې ي
د ټولې نړۍ غم زما کاله ته ځي راځي

پغمان له تندې ساه ورکړه د سوات پېغلې سر توری
ملا له د ميوند هر پښتانه ته ځي راځي

تيارو په مخه کړې د ي تيا رو ورنه سر واخست
تيارو نه ځي تيارو ته او تياره ته ځي راځي

پيمخې د وطن مې وچکا لی ته غا ړه اوځي
تنکۍ ښکلې بلبلې مې سپين غره ته ځي راځي

د هسکو غرونو زرکې شوې له زانو نه راتا وې
را لوتې سردرونه هر يو وره ته ځي راځي

د جنګ لمبې به ټولې شي لږ صبر سنګرواله
د سولې شنې کوترې چناره ته ځي را ځي

28/7/2019لندن


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ